16 جوزا 1381
د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون

**مطبوعاتی اعلاميه**
**کابل-دوړي 24 مه**

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د 1389 لمريزکال د دويم پړاو پارلماني ټاکنو په بهير کې د ناامنيو له زياتيدو څخه خپله انديښنه څرګندوي او د هيواد له امنيتي او نړيوالو امنيتي ځواکونو څخه غوښتنه کوي چې درايې اچونی په ورځ د امنيت د تامين لپاره لاډيرې هلې ځلې وکړي.

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د ټاکنيزو مبارزو له پيل څخه تر اوسه د وګړو له سياسي حقونو څخه څارنه کړيده. د کميسيون موندنې څرګندوي چې ناامنی د دويمو پارلماني ټاکنو د ترسره کيدو پروړاندې جدي ننګونه ده، که چيرې د هيواد امنيتي ا و نړيوال امنيتي ځواکونه د ټاکنو په ورځ خلکوته د امنيت د تامين ډاډ ورنکړي، په اټکل چې په ټاکنو کې به د هغوئ د ګډون کچه له تمې څخه راټيټه وي. د ټاکنيزو مبارزو په اوږ دوکې ناامني ددې لامل شوه چې ډيرې نوماندان د هيواد په ناامنو ولايتونو کې ونشي کړای چې ولسواليو او نورو سيموته سفروکړي او ټاکنيزه مبارزه پرمخ بوځي. له بده مرغه د افغانستان د ټاکنو د تاريخ د کمپاين په مبارزه کی تيره مياشت تر تولو خونړی مياشت وه د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون د ارزونو له مخې، تراوسه 29 تنو هغه کسانو چې ټاکنيزو مبارزوکې ګډون درلود په بيلابيلو ډولونو ځانونه له لاسه ورکړيدي، 46 تنه ټپي شوي او 36 تنه تښتول شويدي، همدارنګه په لسهاوونورو نوماندانو ادعا کړې چې د بيلابيلو کسانو لخوا ګواښل شويدي.

د افغانستان د ټاکنو خپلواک کميسيون د ناامنيو لا املـه د هيواد په 25 ولايتونو کې درای ورکوني 900 مرکزونه چې 2448 محلونه سره رانغاړی، تړلي دي، خو د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون په دې باوردی چې دغه پريکړه د ټاکنو د ټوليزوالي او عموميت له اصل سره په ټکرکې ده او د خلکو د کتنی وړبرخه د رايي ورکولو له حق څخه بې برخه کيږي.

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د افغانستان له ټولو خلکوڅخه غوښتنه کوي چې په پراخ ډول د پارلماني ټاکنو په دويم پړاوکې ګډون وکړي او په دې توګه استبداد او جګړې ته، نه و وايي او همدارنګه د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د ټاکنو له خپلواک کميسيون څخه غواړي چې دازادو، رڼو او عادلانه ټاکنو د سرته رسولو لپاره زياتي هڅې وکړي او د درغلی د مخنيوي لپاره اړين ګامونه او چټ کړي، په همدې ډول له کورنيو او نړيوالو امنيتي ځواکونو څخه غوښتل کيږي چې درايي اچونی په ورځ د امنيت تامين لپاره کوټلی قدمونه واخلي.

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون، د دولت له مخالفينو غوښتنه کوي چې د ټاکنو په بهير کې له وژنې، ګواښ، ويرې او ناامنيو له رامنځته راوړلو څخه لاس واخلي او پريږدي چې د افغانستان ولس درايي د حق او پراخ ګډون څخه په ګټه اخيستلو، په دغه بهير کې خپل رښتيني استازي معرفي کړي.

---

د زياتو معلوماتو لپاره: aihrc.pt@gmail.com او aihrc@aihrc.org.af الکترونيکي پستي او 0202500676 – 0799342267 – 0700181514 نومرو تيلفونوسره اړيکه ټينګه کړئ.